# د شهید ډاکتر نجیب الله د پنځلسم تلین په مناسبت
# دننګرهار ولایت د وطن ګوند د لنډ مهاله تشکیلاتو د ښځو شورا

بسم الله الرحمن الرحیم

دوطن ګوند دلنډ مهاله تشکیلاتو دننګرهار ولایت دښځو د شورا دخوا خوږې پیغام دافغانستان دپخواني جمهوررئیس اودوطن ګوند رئیس ډاکتر نجیب الله دشهادت دڅوارلسم تلین په مناسبت:

زمونږ درنو اوقدرمنو هیوادوالو، خویندواو میندو !

نن دشهید ډاکتر نجیب الله دشهادت دڅوارلسمي کلیزي دتلي دمیاشتي شپږمه نیټه ده چه څوارلس کاله دمخه په همدي ورځ ډاکتر نجیب الله زمونږ دهیوادوالو ګران جمهوررئیس دیو موټي ګمارل شوو تورزړونو کړیو په لاسونو په ډیره ناځوانمردانه توګه دټولو اسلامي ،افغاني ،ملي اوبین المللي اصولو په نظرکي نیولو پرته په شهادت ورسول شو.

اوس پدي ټول افغانان په دي نظردي چه دافغانستان پخواني جمهور رئیس او دوطن ګوند رئیس شهید ډاکتر نجیب الله په ریښتیا سره دخپلي واکمني په دوران کي په هیواد کي دجګړي دختمیدو ،دسولي دتامینیدو ،دمیندو دبي ځویه کیدو ،دخویندو دبي وروره کیدو ودوطن داباديي اوخوشحاله افغانستان دجوړیدو لپاره دقدرت او سر څخه تیر شو ، نوم به ئي دتل لپاره دافغانستان په تاریخ کي روښانه او ځلانده وي او داوطن به ئي په کړنوئي فخرکوي.

مونږ دافغانستان دپخواني جمهور رئیس او دوطن ګوند رئیس شهید ډاکتر نجیب الله دشهادت څوارلسمه کالیزي ، غمیزه ټولو افغانانو ، او دنوموړي کورني غړوته تسلیت وایو او ځانونه ورسره په دي لوي غم کي شریک بولو په ډیر ادب.

روح دي ښاد وي.

دننګرهار ولایت دوطن ګوند دلنډ مهاله تشکیلاتو دښځو شورا